حفیظ الله خالد تاریخ ۱٤/۰۹/۲۰۰۸

محترم سیاسنگ د هیواد یو پراخ نظر شاعر او لیکوال

که څه هم ماته لا تر اوسه د وتلي شاعر، څیړونکي او ادبی کره کتونکي محترم دوکتور صبورالله سیا سنگ د ټولو آثارو د مطالعی چانس له بده مرغه تر اوسه ندی په برخه شوی خو هغه څه چی د محترم سیاسنگ د هر اثر او لیکنی د مطالعی نه له ورایه څرگندیږي د هغه دقت ،،پوخوالی او د هغه په اثاروکی د ټولنی د واقیعتونو عینی انعکا س دی.

سیاسنگ د یوه ادبی نوښتگر څیړونکي په توگه د خلکو او ټولنی پاملرنه داسی اجتماعی نا خوالو، هیر څوي خلک او ادبی بحثونو ته اړویي چی پخوا ترهغه چا ورته پام ندی کړی ، د بیلگی په توگه زموږ په ختیځو ولایتونو کی زیاد شمیر شاعران ،لیکوال او څیړونکي ژوند کوي چی د مرحوم ملنگ جان شعرونو او د ژوند حالت سره له پخوانه پیژندگلوي لري خو تراوسه ډیرو کمو کسانو دی موضوع ته پام اړولی چی د مرحوم استاد ملنگ جان شعرونه ترکره کتنی لاندی ونیسي او د هغه د ژوند پر مختلفو برخو رڼا واچوي ، له نیکه مرغه نوښتگر او تیزبین شاعر او څیړونکی محترم سیاسنگ دی کار ته ملا تړي او هغه
هم پداسی حال کی چی پښتو د هغه مورنی ژبه نده ، د مرحوم استاد ملنگ جان ځینی شعرونه تر ادبی کره کتنی لاندی نیسي او د هغه دا ښکلی شعر چی وایی:

خداي **د عشـق په ریاست** کي ملازم کړم
کار تقدیر کـري، نو زه څله ملامت یم؟

د (نوکر ریاست عشق) تر سرخط لاندی بیا په تفصیلی ډول څیړي او هغه د سیمی د نورو شاعرانو د شعرونو سره پرتله کوي چی دا پخپله د محترم سیا سنگ یو په زړه پوری نوښت او ارزښتناک خدمت دی، همدا رنگه د مرحوم داود خان په باره کی د محترم سیاسنگ وروستی لیکنی چی په پښتو هم ژباړل شوي او هدف یی د مرحوم داود خان او د هغه د کورنی د غړو د وژل کیدو په هکله ځینی نا ځوابه پوښتنو ته ځواب پیدا کول دی د ښاغلی صبور الله سیا سنگ بل لوی خدمت او ابتکار څخه شمیرل کیږي .

د محترم سیاسنگ یوه ځانگړتیا دا ده چی هغه هیڅ کله هم ځان د قومی، ژبنی او سیمه ایزو لنډ پارو افکارو په لومو کی بندی ندی ساتلی او د ا هغه مرض دی چی له بده مرغه نن سبا زموږ د هیواد زیاد شمیر ړوندآندي په هغه باندی اخته شوي دي.

زما په نظر محترم صبور الله سیا سنگ د یو با ضمیر او متعهد شاعر، لیکوال اوکره کتونکي په صفت زموږ د معاصر ادبی تاریخ په آسمان کی یو ځلانده ستوری دی ، زه پداسی حال کی چی محترم صبور الله سیا سنگ ته د لا زیا تو بریالیتوبونو هیله کوم ، د کابل نت د چلونکو او نورو هغو عزیزانو ته هم کور ودانی وایم چی محترم صبورالله سیاسنگ لپاره یی د ځانگړی پروگرامو بندوبست کړی دی.

په درنښت

حفیظ الله خالد
د هسکو د موسسی مشر
ویانا

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de